بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

تاريخ: ۲/ جمادي الثانية/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۲۵/قوس/ ۱٤۰۲ هش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

متحدالمآل نمبر: ۲٤

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: هغه وثائق چې قضائي حکم ته ضرورت لري او هغه وثائق چې قضائي حکم ته ضرورت نه لري، همدارنګه په دې اړه چې آيا په اوسني شرائطو کې د تليفون او واتساپ وغيره له لارې يو څوک کولای شي چې يو چا ته د خپلې دعوې وکالت ورکړي او که نه؟ که وکالت ورکولای شي په کوم ترتيب او کومو شرائطو يې ورکولای شي؟ ياده موضوع د يولړ اصولي مراحلو د طې څخه وروسته د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مورخ ۱۷/ربيع الثاني/۱٤٤۵هق مصادف ۱۰/عقرب/۱٤۰۲هش ته وړاندې شوه په اړه يې د تصويب نمبر (۹) د لومړۍ پريکړې په اساس عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((وثائق په دوه قسمه دي: ۱ـ رسمي اسناد. ۲ـ عرفي اسناد.

رسمي اسناد هغه دي چې په محکمه کې د مؤظفو مامورينو له خوا په قانوني طريقه جوړ شوي وي د هغوی په امضاء، مُهر او تصديق رسېدلي وي، دغه ډول اسناد د ډېر احتياط او حفظ لپاره په محکمه کې ليکل کيږي لکه: (د ابراء وثيقه، د وصيت وثيقه، د ضمانت وثيقه، د صلحې وثيقه، د اقرار وثيقه، د نکاح وثيقه، د طلاق وثيقه وغيره نور وثائق) دغه ډول وثائق په يوه کتاب کې ترتيبيږي او د جمع کېدو څخه وروسته په ديوان کې ساتل کيږي، دا په دې معنی نه ده چې د يادو وثائقو د ليکلو لپاره د قاضي حکم ضروري دی بلکه د محفوظ ساتلو لپاره په محکمه کې ترتيبيږي چې دغه ډول وثائقو ته رسمي اسناد ويل کيږي.

همدارنګه د فقيه علماء کرامو لخوا د وثائقو ليکل جائز دي او قاضي نشي کولای چې عادل علماء کرام د دغه ډول وثائقو د ترتيب څخه منع کړي چې دغه ډول اسنادو ته عرفي اسناد ويل کيږي.

نو په دې اساس هغه افغانان چې د افغانستان څخه بهر په نورو هيوادونو کې ژوند کوي او غواړي چې په افغانستان کې يوه شخص ته د يوې مشخصې دعوې پر مخ بيولو لپاره وکالت ورکړي هغه به لومړۍ په هغه هيواد کې چې دی استوګن دی، د موجوده وخت خپل تصوير، اصل تذکره، اصل پاسپورټ او په ميشت هيواد کې د استوګنې د اثبات لپاره د هغه هيواد اقامه، مهاجر کارت وغيره په درلودلو سره به د افغانستان سفارت يا قونسلګرۍ ته مراجعه کوي او په ليکلي ډول به اقرار کوي چې ما د فلان موضوع په هکله په افغانستان کې فلان بن فلان وکيل ټاکلی دی او د خپل موجوده وخت تصوير، د تذکرې، پاسپورټ او په ميشت هيواد کې د استوګنې د اثبات لپاره د هغه هيواد د اقامې، مهاجر کارت وغيره يوه يوه کاپي او د ويديو کال لپاره د خپل مبايل شماره به د افغانستان سفارت يا قونسلګرۍ ته سپاري.



پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
د معاونيت تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ايميل: darulinsha@gmail.com
ويب سايت: www.supremecourt.gov.af

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

په خارج کې د افغانستان سفارت یا قونسلګرۍ به د یاد مؤکل لیکلی اقرار او اړونده اسناد د افغانستان اسلامي امارت خارجه وزارت ته ایمیل کړي او په محفوظ او مصؤن ډول به یې د پوسته خانې له طریقه هم خارجه وزارت ته راواستوي.
د افغانستان اسلامي امارت خارجه وزارت به یاد اسناد په کابل او کندهار کې د خارجي وکالت خطونو جوړولو ځانګړې محکمې ته استوي.
کله چې را استول شوي اسناد محکمې ته ورسیږي نو په دغه وخت کې به هغه شخص چې وکیل ټاکل شوی د دوه نفره داسې شاهدانو سره یو ځای چې په خارج کې میشت مؤکل په رنګ او ږغ سره پیژني، یادې محکمې ته به مراجعه وکړي د محکمې مؤظفین به د وکیل او مؤکل تر مینځ تصویري تماس (ویډیو کال) ترتیب کړي، کله چې د معرفت شاهدانو تائید کړه چې دغه شخص چې په تصویري تماس کې خبرې کوي، هغه شخص دی چې په را استول شویو اسنادو کې یې دغه وکیل ته وکالت ورکړی دی، تر هغه وروسته به محکمه وکالت خط ورته ترتیب کړي دغه وکالت خط د اسلامي امارت په محاکمو کې معتبر دی.
پورته تحریر شوی ترتیب دې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ته واستول شي تر څو په نورو هیوادونو کې د افغانستان سفارتونو او قونسلګریو ته یې په متحدالمآل شکل واستوي.
همدارنګه د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست دې یاده موضوع ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))
بناءً د خارجي وکالت خطونو د ترتیب په اړه د سترې محکمې د عالي شورا هدایت د ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af